**دفتر دکتور محمد اشرف غنی**

تاریخ: ۱۷/جوزا/۱۴۰۳

**پنځلسم پودکاست**

**د افغانستان طبیعي زېرمې (دویمه برخه)**

**سریزه (داود جنبش):**

به یکی دیگر از پودکاست‌ها با رئیس جمهور محمد اشرف غنی خوش آمدید، من داود جنبش استم.

نن هم د تېرې ګڼې په ادامه، د افغانستان د طبیعي زېرمو ځینې پاتې اړخونه څېړو او د راتلونکي لپاره د تېرو تجربو ارزښت یادوو.

استاده! تاسې ته هم بیا هرکلی وایم، په خیر راغلئ، مننه چې تېره ګڼه کې مو د کانونو او د طبیعي زېرمو ځینې مهم اړخونه راسره وسپړل، دې کې به ان‌شاءالله چې [د] پای ټکی ورته کېږدو.

**دکتور غني:** بسم الله الرحمن الرحیم. زښته ډېره مننه له تاسې نه او تاوده سلامونه مې ټولو وطنوالو، خویندو او ورونو ته، په هر ځای کې چې دي.

**جنبش:** مننه. بې له شکه چې د کانونو پراختیا د طبیعي زېرمو او هایدروکاربني موادو مسئله ډېرې خپرونې غواړي، خو زه به هڅه وکړم چې لنډې، لنډې پوښتنې وکړم [چې] حد اقل هغه مهم اړخونه یې راشي. تېره ګڼه مو په دې پای ته ورسوله چې ستاسې تجربې، ستاسې سپارښتنې، ستاسې اخیستنې د کانونو د مدیریت په برخه کې څه وې. زما په یاد دي چې د کانګو موضوع ته مو هم تاسې اشاره وکړه چې د الماسو له خاطره کله به په کې د شوروي پلویانو کودتا کوله، کله به د لوېدیځ پلویانو په کې جګړې راپیلولې، نو د دې نه داسې برېښي چې کانونه یا د ځمکې لاندې زېرمې حتماً د هوسایۍ او نېکمرغۍ معنی نه لري.

**دکتور غني:** بالکل، ځکه یو ملک چې نظم او نظام ونه لري او وحدت ونه لري او نقشه د لارې ونه لري، د نورو وسیله ګرځي. کانګو [کې] هغه وخت کې آلماس وو، اوس کوبالت دي. ډېرترین منابع د کوبالتو په کانګو کې پراته دي، اما له بده مرغه یوه بُزکشي ورباندې روانه ده.

اوس چې د چاپېریال مسئله زښته جدي شوې ده، که غواړئ د چاپېریال لپاره د تېلو نه ګټه پورته نه کړئ او د تېلو استعمال کم کړئ، باید برېښنا له لمر نه، له باد نه، له اوبو نه او [نورو] نه راشي او دا ټول د برق مزي غواړي او په دې کې [باید] زرها میلیارده ډالره پانګه واچول شي. اما هغه منابع چې اوس دې ته په کار دي، هغسې هیوادونو کې دي چې له بده مرغه یوه ډېره برخه یې سمه حکومتداري نه لري او خطر ددې دی چې بیا هغه شی چې خدای جل‌شانه دوی ته ورکړی چې په هغه باندې آبادي راشي، [برعکس] دوی یې په ساده‌ګۍ یا په فساد، یا له دې نه چې د نن ګټه وګوري او د سبا ګټه و نه ګوري، په هېڅ ورکوي.

**جنبش:** نام‌هایی از کشورها بردید که در طول سده‌ها و دورانهای مختلف نمونه‌های مدیریت موفق و غیرموفق کشور خود بودند، مخصوصاً در مسایل منابع؛ نمونۀ کنونی اش شاید ونزوئلا باشد که باوجود منابع سرشار نفتی، هنوز هم یکی از کشورهای فقیر قاره امریکا جنوبی است. تجارب مثبت و موفق را اگر به یاد شنونده‌ها بدهیم که سرمشق شود برای افغان ها.

**دکتور غني:** ونزوئلا موضوع عبرت است. امروز یکی از زیادترین مهاجرین خارج کشور از ونزوئلا در امریکای لاتین و در کشورهای دیگر است، خاصتاً در کولمبیا. بنابراین درس واضح است.

مثال ناروی را هم به حیث مثال بسیار مثبت و پیشگام برای ایجاد صندوق‌ها برای تان قبلاً ذکر کردم.

بوتسوانا در مدیریت آلماس خود یک کشور در افریقا است که ثبات آورده.

اندونیزیای فعلی از کشورهایی  است که به صورت موفق در حال ایجاد تحرک است و اندونیزیا بالآخره [به] یکی از مراکز عمده تحرک جهانی بدل شده.

امارات متحده عربی، مخصوصاً دُبی که منابع تیلی نداشت، موقعیت خود را استفاده کردند و [با] ابعاد دیگر مدیریت، اینها توانستند که خود را به کشوری که ابعاد مختلف پیشرفت امروز  را روی دست دارند و ثروت عظیمی را برای نسل‌های آینده ایجاد کرده اند ، [مبدل کند].

چیلی از نگاه مدیریت مس خود، هم دوره‌های مشکل دارد و هم دوره‌های بسیار خوب دارد. تجارب هر بخش این قابل توجه است.

بناءً باید هم نوع فلز را ببینید، هم جمع بندی واضح مدیریت منابع طبیعی را ببینید و از طرف دیگر نفت وگاز را، هم انواع مدیریت و مقیاس آن به صورت اساسی باید دیده شود.

نکته کلیدی در این است که تجربه هیچ کشور به تنهایی در یک کشور دیگر پیاده شده نمی تواند. باید ابعاد مختلف تجربه‌های موفق با شرایط خاص یک کشور باهم تلفیق شوند و در قسمت وطن عزیز ما افغانستان تطابق داده شود تا از یک تهداب مستحکم منزل به منزل و پله به پله بالا برویم.

**جنبش:** در این سال‌های گذشته جنگ سالارها یکی از مشکلات عمده در قسمت استخراج معادن و منابع زیر زمینی بودند.

**دکتور غنی:** مطلق. منابع عمده بدخشان را اگر ببینید..؛ یکی از مسایل عمده ناآرامی بدخشان متأسفانه موضوع لاجورد بوده. در دوران جنگ‌های داخلی زمرد، یاقوت و منابع دیگر خاصتاً در ولسوالی‌هایی که در طول خط دیورند قرار داشته و ولسوالی‌های سرحدی ما، یک قاچاق بسیار وسیع منابع طبیعی ما که بی رحمانه بود و گروه‌های مختلف شورشی صد تا دو صد میلیون دالر در سال از آن عایدات داشتند.

همچنین سوء استفاده از منابع ذغال سنگ ما، ریگ ساختمانی، [و دیگر مواد] ساختمان، همه این‌ها مشکلات بنیادی است، زیادتر از همه وضعیت [بد] امنیتی مانع سرمایه گذاری بزرگ شد.

نکته بیکه در قسمت معادن قابل توجه است، اینست که حاصل سرمایه‌گذاری بین ۵ سال تا ۵۰ سال را دربر میگیرد، نظر به حجم یک معدن، نظر به ابعاد آن و این ثبات میخواهد؛ ثبات پالیسی میخواهد، ثبات سیاسی میخواهد و نوع همکاری مشترک؛ از این جهت ابعاد قرارداد نهایت اساسی است، چون قرارداد است که نوع قواعد بازی را تشکیل می دهد و مدیریت آن ضرورت به یک سرمایه گذاری خاص سر نهادهایی که نظارت میکنند [و] نهادهایی که سرمایه گذاری را ایجاد میکنند، [دارد]. و از طرف دیگر تصمیم دیگری هم باید گرفته شود که ظرفیت ملی چه رقم ایجاد شود. ما ضرورت واضح داریم که ظرفیت ملی را در قسمت تفحصات ایجاد کنیم تا بتوانیم بفهمیم که تمام منابع ما چیست. اما بعضی نقاطی استند و بعضی ظرفیت‌هایی استند که ضرورت به متخصصین دارند و در آن قسمت هم تجربه امارات [متحده عربی] یک تجربه موفق است. این‌ها شرکت‌های خود را ایجاد کردند که متخصصین خارجی به حیث کارمندان اینها استخدام می شوند، عوض اینکه صلاحیت را به این شرکت‌های بیرونی که پیش اینها مسئول نیستند، بدهند. و مسئله بی اعتمادی بیکه در سراج الاخبار مطرح شده بود [و در برنامه گذشته نقل قولی از آن آورده شد]، یک مسئله دوامدار است، متل دارید که: (برادری میکنیم حساب در میان). در بخش مشارکت سرمایه‌گذاری بین‌المللی اعتماد باید در طول زمان ایجاد شود و اساس مستحکم و واضح در قراردادهای حقوقی داشته باشد که قابل تطبیق باشد.

**جنبش:** هغه توضیحات چې تاسې تراوسه پورې ورکړل ما ځان سره یاد داشت اخیسته، زه کولای شم درې موارد چې زموږ د منابعو د موندنې او سپړنې کار کې یې خنډونه جوړول، یاد کړم: جنگسالاران، جگړه او ناارامي او د بشري ظرفیت نشتوالی. نور هم په دغه برخه کې څه شی وو چې دا خنډ یې جوړاوه؟

**دکتور غني:** هو معلومدار. لومړۍ برخه ټرانسپورټ ده، ځکه معادن درانه دي او درانه شیان ټرانسپورټي سیستمونو ته اړ دي. بې له دې نه چې افغانستان د ریل پټلۍ باندې پانگه واچوي او د ریل پټلۍ په گډه له گاونډیو هیوادو سره منځته راوړي، ستونزه نه حل کېږي. د همدې لپاره د ریل پټلۍ پروگرام لومړی وار د شېرعلی خان دوران کې مطرح شو، بیا به د زیربنا [برخه کې] په دې باندې په تفصیل وغږیږو، مگر دا ضروره ده. له بلې خوا نه د سړکونو ساتل دي، ځکه زموږ سړکونه په ډېره بې رحمانه توگه د لویو لاریو له [لوري] په تخریب کې دي.

**جنبش:** مزار شریف کې د حیرتان لور ته د ښار نه راوتی سړک فکر کوم د سکرو د لېږد له امله ښځي له منځه تللی و.

**دکتور غني:** بالکل هو، او د قندهار کابل سړک هم که ووینئ، نور هم که وگورئ [همداسې دي]. له پاکستان نه چې [ باري موټر] راتلل، د دوه یا څلور موټرو [بار] یې په یوه لارۍ کې اچاوه، سړکونه جوړ شوي وو [له] ۸ تر ۱۰ ټنه پورې [اما] ۵۰ تر ۱۰۰ ټنه لارۍ یې ورباندې وگرځولې او دا د فساد نتیجه وه. نو ټرانسپورټ یوه برخه ده.

دویمه برخه یې برق ده، برېښنا ده. معادن انرژي غواړي او د دې لپاره د برېښنا موجودیت زښت ډېر ضرور دی، ځکه دا په سکرو باندې نشئ کولای، ځکه چې د سکرو [استعمال] پخپله نور عواقب لري [نو] ضروري ده چې برق وي.

دریيمه برخه یې دا ده چې دا ځمکې ته ضرورت لري او د ځمکې جنجال باید په واضح توگه [حل] وي. دلته هم نور جنگسالاران راغلل چې لویې دښتې یې تر خپلو لاندې واچولې، دولتي املاک یې ونیول. ابعاد د ځمکې ډېره مهمه برخه ده او بله برخه د اوبو ده.

**جنبش:** وبښئ؛ ځمکه د دې لپاره چې وسایل پکې ودرېږي او شیان چې راباسي...

**دکتور غني:** هو چې وسایل پکې ودرېږي، ځکه چې مخصوصاً نظر په ساحې پورې چې تړلې ده، معادن ته یو رقم ځمکه په کار ده، اما [د] تېلو او گازو [برخه] کې ډېره پراخه اراضي مو په کار ده. په سلهاوو کیلومتره په کار ده چې هلته تفحصات وشي او معلوم شي، [ځکه] چې نه پوهېږئ واضح، هغه ځاه چې کینئ کومه یې گټه [در] کوي. د دې لپاره قانون د استملاک زښت ډېر ضرور دی او که قانون د استملاک په سمه توگه تطبیق نه شي یا خلک [او] ځینې عناصر چې غواړي له خړو اوبو نه کبان ونیسي، استعمال کړي، جنجالونه جوړوي.

بله برخه يې د اوبو ده. د سيمنټو فابريکې دي يا دا نورې فابريکې دي [دا ټولې] اوبه غواړي. د دې په څنګ کې څه رقم عناصر د معادنو په استخراج کې استعمالېږي. دا خو کيمياوي مواد دي چې ځينې يې سلهاو کاله او ځينې يې شايد زرهاو کاله [پاته] شي، نو ابعاد د دې ټول سره تړلي دي. دا يې حد اقل د زيربنا موارد دي.

بله برخه د قانون حاکميت دی. که قانون روښانه نه وي، که د قانون په اساس قراردادونه رانشي، که قانون په واضح توګه تطبيق نشي، که د ستونزو د حل واضح قانوني لاره نه وي او هم له بلې خوا نه هر څومره چې لويه پانګه اچونه وي، منځ کې يې بين‌المللي حکميت يوه حتمي موضوع ګرځي او که بين‌المللي حکميت ته تاسې آماده‌ګي ونه نيسئ [مخ ته نه ځئ] دا [يې] ابعاد دي. د اسلام په مبين دين کې قرارداد يو ډېر لوی اهميت لري او پوهېږئ چې پور په شريعت کې مخکې له ميراث نه راځي. اول بايد پور تصفيه شي. وختې چې ګورئ چې څومره موده پانګه اچول په کار دي، څه وخت يې لومړني نتايج په [لاس] راځي، څو کلو [کې به] هغه لومړنۍ پانګه [بېرته لاسته] راځي؟ دا ابعاد زښت ډېر دقيق دي او له دغه نظر نه علمي پانګه په کار ده.

بله برخه يې امنيت دی. هغه امنيت چې په افغانستان کې مخکې د ثور له کودتا نه و، هغه امنيت بې‌ساری امنيت و او موږ يې په ارزښت نه پوهېدو. هر معدن، يا هرې ځاه ته خاص امنيتي شرايط دي. د جمهوريت په دوران کې د ۲۰ نه تر ۳۰ فيصدو پورې او له دې نه ډېرتر امنيتي مصارف او امنيتي برخه مو... ځينې يې خاص بيا دا جنګسالاران وو چې بې امنيتي يې ايجادوله او بيا به يې خپل افراد استخدامول.

د دې په څنګ کې ټولنه، خلک، ولسونه چې شاوخوا د دې کې دي، دوی ته څه رقم خدمات وړاندې کېږي؟ د دوی څه رقم ګډون راځي؟ او په څه ترتيب راځي؟

د دې په څنګ کې هم دا موضوع ده چې معلومات څنګه شريکوئ؟ [او] په څه توګه معلومات څېړل کېږي؟ دلته واضح بين‌المللي اصول موجود دي چې هغه ته د معدن د شفافيت قرارداد وايي او منځ کې واضح معيارونه دي. يو وارې [د همدې نيمګړتيا له امله] موږ محروم شوو، بيا مو واضح اقدامات وکړل چې بېرته دا خپل حيثيت وګټو، مګر وختې چې هر شی پټ وي او هېڅ شی ښکاره نه وي، خو معلومدار دا د اعتماد وړ نه ده.

بله برخه د دې پانګه ده. پانګه په څه رقم راوړئ؟ په څه شرايطو يې راوړئ؟ څنګه په پانګه‌اچونې باندې پوهېږئ چې دا خلک چې وړانديز کوي [په] واقعي توګه خپل دي يا نه دي؟

بل پټ مشارکت دی. قانون واضح و چې چارواکي، د پارلمان غړي يا [نور] يا د کورنۍ غړي يې، نه شوای کولی چې په دې برخو کې شريک اوسي، اما په پټه دوی شريک وو او هغه د بې اعتبارۍ موجب ګرځي. نو دواړو خواوو کې د

هغې کمپنۍ یا هغه هیواد شهرت چې پانګه اچوي، باید واضح وي چې تر څه حده پورې په فساد کې ښکېل دي؟ څنګه د فساد مخه نیسئ؟ او اعتبار يې څنګه دی؟

د دې په څنګ کې [باید] واضح وي چې بیمه څنګه اخلئ؟ ځکه که پانګه اچول کېږي او بیا قرارداد ته ځئ، حکمیت او دې ته، باید د بیمې شرایط ولرئ چې په هغه حالت کې...

**جنبش:** او بیمه پخپله هم ډېره ګرانه پرېوتله...

**دکتور غني:** بیمه ګرانه ده، اما په دې باندې باید پوه شئ او د همدې لپاره ده چې که سپماوی کوئ، سپماوی په څه کې کوئ؟ سپماوی په بشرې پانګه باندې ځان ته زهر اخیستل دي. که دې قراردادونو باندې ظرفیت د دې ونه لرئ او هغه رقم پانګه ایجاد نه کړئ، بیا هر وارې غولېږئ. نو حساب او کتاب په کار دی، په ډېرو ساده الفاظو باندې، که د حساب توان ونه لرئ او د کتاب لاره مو زده نه وي، ځان غولوئ او بیا غولېږئ.

**جنبش:** آیا این همه مواردی که در اینجا تذکر یافت، در طرح و نقشه راهی که در زمان شما برای استخراج و استفاده منابع زیر زمینی افغانستان ساخته شد و فکر نه کنم که به منصه اجرا آمده باشد، شامل گردیده بود؟

**دکتور غني:** نکته اول این است که قسمت اول در منصه اجرا بود. پیش از وبای کووید یک قسمت سرمایه گذاری‌ها صورت گرفت. سرمایه گذاری‌های بزرگ دیگر خاصتاً در آسترالیا ما در مذاکرات بودیم، راجع به لیتیم در مذاکرات بودیم ابعاد دیگر. من از نقشه راه نقل قول میکردم...

**جنبش:** یعنی این شامل همان نقشه راه بود.

**دکتور غنی:** شامل نقشه راه بود، اما باز هم باید نقشه راه را ببینید، نقشه راه یک تهداب است، تهدابی که با شرایط زمانی و مکانی باید تطابق داده [شود]، باید انعطاف در آن باشد. نقشه راه از این خاطر است که باید بفهمیم که موانع ما چیست تا اولویت بندی کرده بتوانیم و به اساس آن بتوانیم مرحله بندی کنیم که در کدام مرحله به چه ترتیب، کدام نوع سرمایه گذاری را خود ما انجام داده میتوانیم با سرمایه گذاری داخلی، چه نوع سرمایه گذاری بین‌المللی کار داریم و همه این را به چه ترتیب جمع میکنیم تا به یک برنامه واضح ایجاد رفاه برای قاطبه ملت افغانستان، برای امروز و نسل‌های آینده به وجود بیاید. چون اساس گفتار من این است که منابع طبیعی افغانستان امکان یک آینده مرفه را برای قاطبه ملت افغانستان فراهم کرده میتواند، اما باید یک انتخاب واضح صورت بگیرد که این منابع چه رقم مورد استفاده قرار بگیرد و همه چطور باید در رفع موانع با یکدیگر کمک کنیم و از ایجاد موانع جدید جلوگیری کنیم.

**جنبش:** نو که ډېر لږ، څه په دغه لار نقشه باندې تم شو خبره به واضح شي. لومړی پوښتنه مې په دې برخه کې داده چې دغه نقشه، طرحه په څه ولاړه وه؟ بنسټ يې څه و؟ له کومه ځايه پيل کېده؟

**دکتور غني:** اساس يې په دې باندې و، اوس د مثال په توګه وختې چې لومړی مسئلې زېربنا باندې غږېږئ، دا و چې ما د ريل په پټلی باندې په اساسي توګه تمرکز وکړ. اول په دې بريالی شوم چې زموږ ملګري مُلک ترکمنستان ته دا قناعت ورکړم چې په خپلو پيسو باندې [يې] د ريل پټلی هم آقينې ته راوستله هم حيرتان ته.

دويمه برخه دا وه چې د تاپي پروژه د تاپي په کورېډور باندې بدله شوه. که هغه کودتا نه وای نن به تاسې د دې شاهد وای چې تاپي به تر هلمنده پورې رسيدلې وای حد اقل تر فراه پورې او بايد هرات ته په يوه برخه کې رسيدلې وای.

د ازبکستان سره په دې باندې [بوخت] وو چې څنګه نقشه د ريل پټلی دا رقم ترتيب کړو چې د دې پرځای چې د سالنګ نه تېر شي چې ډېر ګران و، د صوف له درو نه راشي په باميان، باميان نه راشي په ميدان وردګ، لوګر له يوې برخې نه لاړ شي خوست ته، بل يې ننګرهار ته. او له بلې خوا نه لويه پروژه مو په دې باندې وه چې د ريل پټلی له حيرتان نه څنګه هرات ته ورسوو چې دا سيستمونه له يوې  خوا نه ترکمنستان سره او ايران سره وتړل شي او بل سيستم به معلومدار پاکستان سره تړې او تاجکستان سره هم. په همدې ترتيب يوه ډېره لنډه لاره وه چې جيرتان[Jairatan] او دې نه ترتيبېدله.

د برق مزي په باره کې يو زر  ميګا واټه قرارداد مو ازبکستان سره تړلی و او دا په ډېره کمه موده کې، ځکه چې لومړی مرحله کې مو دا په کار وه چې بايد ننګرهار ته کافي مقدار برق ورسوئ چې د صنعتي ودې امکان يې و. هرات کې برق و، ډېره پانګه له ننګرهار نه لاړله هرات ته. تالک منابع د ننګرهار په بين‌المللي سويه دي، اما که انرژي نه وي، وده نشئ ورکولی.

د عينکو مس چې لوګر کې دی، عين ترتيب دی يا د نړۍ په سويه باندې لوی‌ترين معدن د حاجي‌ګک د اوسپنې. هره برخه د دې هم د زونونو په اساس باندې، هم د عمومې ضرورياتو په اساس باندې موږ ترتيباتو باندې کار کاوه چې ټرانسپورټ برخه څنګه خوندي شي او هم د برق برخه.

د ځمکې د مديريت لپاره د اراضي اداره ټوله له ښارسازۍ سره يوځای شوله. يو واضح اصول دې برخه کې مطرح شول چې څنګه ټوله ځمکه په قانوني توګه تثبيت شي [او] ابعاد د دې واضح شي. د دې لپاره  و  [چې] د ډيجېټل کېدو لوی پلان ما طرح کړ.  د آګست د ۲۰۲۱ په ختم کې ټول معاشونه به په برقي توګه عملي کېدل، مرکزي بانک، وزارت ماليه او نورې ټولې اداري دې باندې  تړل شوې وې. پنځو ميليونو نفرو ته برقي تذکره ورکړ شوې وه، تر ختم د

کال به ۱۰ میلیونه کېدل. ځکه تاسې باید معلومات او منابع ولرئ او دې ضرورت د دې درلود چې مرکزي احصاییه له احصاییې نه وګرځي، معلوماتي ادارې باندې بدله شي.

په همدې توګه [مو] د معادن د وزارت پراخه اصلاحات تر نظر لاندې ونیول چې څنګه قراردادونو کې، وړو قراردادونو، منځنیو قراردادونو او لویو قراردادونو کې له حقوقي نظر نه یو خوځښت راشي.

بیا دا د اوبو مسئله هم لکه څنګه چې موږ او تاسې مخکې غږېدلي یوو، په دې باندې په اساسي توګه راغلي وو چې د اوبو د خوندي کولو لاره به څه وي.

قراردادونو برخه کې واضح یوه شفافه لاره راغله او د دې لپاره چې یو نفر په کې خود مختاره نه وي، عالي اقتصادي شورا، کابینه او نورو مواردو کې پارلمان ته دې برخه کې مراجعه وکړي.

نو هره برخه د دې زه په تفصیل درته تشریح کولای شم چې واضح اقدامات شوي وو، یو تهداب ایښودل شوی. له حقوقي نظر نه که په یاد مو وي موږ وکړای شول چې یوه لویه دعوه د مزار – هرات سړک چې له بادغیس تېرېده، له کمپنیو نه وګټو. دې دوه کاله ونیول او هغه قرارداد یو میلیون ډالر فی کیلو متر ته رسېده. هغه وخت چې زه وزارت مالیه کې وم، ما په ۱۲۰ زره ډالرو جوړاوه، نو دلته موږ ظرفیت وښوده چې په واضح توګه موږ د دې توان لرو. د تدارکاتو په برخه کې واضح بدلون راغی، ظرفیت منځته راغی چې څنګه تدارکات په اساسي توګه وشي او د مذاکراتو برخې...

امنیت برخه معلومداره ستونزه وه چې له منځه لا نه ده، او لا ورسره مخامخ وو.

او پخوانیو قراردادونو باندې ټولو باندې یو نظر راغی چې ټول یې ثبت شي په یو مرکز کې [او] ټول دا وګوري چې چاته څه ورکول شوي وو.

او تضاد د منافعو په برخه کې یو غړي د کابینې او یو وکیل د پارلمان استعفی ورکړله چې وکولای شي خپلو شخصي کارو پسې وګرځي. او په عین حال کې هغه چارواکي د معادنو وزارت کې چې ورباندې تور و، څو نفرو باندې یې په جګه سویه باندې، محکمې حکم وکړ او د محکمې حکم د تطبیق لاندې و، نو دا...

**جنبش:** پس این یک ساحه بسیار، بسیار وسیع بود؛ اولویت‌ها را چگونه تنظیم میکردید که از کجا شروع کنید، چه چیزی در ردیف اول است، چه در ردیف بعدی وغیره؟

**دکتور غنی:** بلی، اولویت‌ها چند [قسم] بودند: یک، نکته اول این بود که معادن کوچک را با مردم عیار کنیم، عوض اینکه با مردم طرف قرار بگیرید، عوض اینکه استخراج اینها به قاچاق مبدل شود، مراکز پروسس را باید ایجاد کنید و تالک یک نمونه این بود  که بتوانیم سرمایه گذاری را ایجاد کنیم.

نکته دوم اولویت این بود که منابع مرمر ما را که یکی از بزرگترین منابع ما است و تخمین آن  به چند صد میلیارد دالر میرسد و از نگاه ظرفیت خاصتاً معادن مرمر سفید هرات و مرمر سفید ننگرهار به سطح جهانی که بهترین معیار آن کرارای ایتالیاست، قرار دارد.

قسمت دیگر اولویت این بود که چطور نفت و گاز را، قراردادهایی را  که شده بود و کمپنی‌ها حاضر نبودند شرایط سرمایه گذاری را پوره کنند، برای شان یک پیغام واضح دادیم که این قطع می شود.

معادن متوسط نوع سرمایه گذاری  [آن] ترتیب شده بود. طور مثال کمپنی بیات که تیلیفون افغان بیسیم در اختیار شان بود، سر تولید برق سرمایه‌گذاری کرد و گازی که ازش استفاده نمی شد برای تولید برق مورد استفاده قرار گرفت و حاصل آنرا شرکت برشنا تعهد کرد که بتواند بخرد.

در قسمت سرمایه گذاری سبز و ایجاد صنعت سبز با یکی از بزرگترین سرمایه گذارهای آسترالیا در حال مذاکره بودیم.

**جنبش:** د دې لپاره خو حتماً اطلاعاتو ټولولو ته هم اړتیا وه او اداري به بوختې وې، دغه بهیر هلته څنگه روان و؟ سره له دې چې تاسې وویل بشري ظرفیت دومره لوړ نه و.

**دکتور غني:** نه، دوه برخو [کې] باید فرق وکړئ: یوه دا ده څه چې موجود وو، دومره ظرفیت باید ولرئ چې دا په یوې برنامې باندې بدل کړئ. اهمیت د دې نقشې د لارې دا و چې موږ ته یې وښودل چې باید څنگه له هرج و مرج نه ووځو، یوه واضح لاره تعقیب کړو. دې ته ظرفیت و او ددې ظرفیت استعمالول په کار و . په همدې توگه ځینې شخصیتونه وو چې د افغانستان ویاړ دي په پولي‌تخنیک کې او په نورو برخو کې او ځینې نور افغانان وو چې لوړ تحصیلات یې کړي وو. زما یو ویاړ دا و چې چا به چې دوکتورا په یوه برخه د معادن یا جیولوجی د افغانستان [کې] لیکله، ما به شخصاً ورسره کتل، کتاب به مې یې لوست او دوی د معادن د وزارت د مشاورینو په حیث باندې وټاکل شول. هم د پخوانی نسل چې لویه تجربه یې د روسیې او پخواني شوروي اتحاد له منابعو درلوده او له نویو نه. دغه ترکیب کې وو چې لاره برابرېدو ته وه، حرکت راته، مگر دا لیست مو چې ولیده، دا یې هم واضح کوله چې ځینو برخو کې مدارج په کار وو. په یو وخت کې مو دا ټول شي ته حرکت نه شو ورکولای. د مثال په توگه د آسترالیایی میلیاردر چې موږ د [پانگونې داوطلبو]  ٦٠ مُلکو نه ٦ ته رسیدلی وو، ښه‌والی یې دا و، هغه ظرفیت چې دوی راوړ، هغه ظرفیت

په نړیوالې برخه کې و او خاصتاً دې [آسترالیایي] سړي دومره چاپېریال سره مینه درلوده چې پس له دې نه چې میلیاردر شو، لاړ یوه دوکتورا یې واخیسته. د اعتبار مدارج دې خلکو سره په بل رقم ایجادېدل او د هغه گرنټې دا وه چې په هغه رقم پانگې اچولو باندې شفافیت به دوو خواوو [کې] و.

ظرفیت داسې شی نه دی جناب جنبش صاحب چې یوه ورځ کې راشي، ظرفیت په عمل کې زده کوئ. دا لکه د موټر چلول چې زده کوئ، لومړي وخت کې اعتماد نه لرئ، اما په مرور د زمان باندې تجربې سره [مخ ته ځئ]، بایسکل یا [نورو کې هم] او فضل د خدای افغانانو کې ما همیشه یو لوی استعداد لیدلی چې د لوستلو، د لیکلو، د زده کولو ظرفیت په کې شته که شرایط ورته سم ایجاد شي. جنجال مو دا دی او دا ډېر په عجز سره وایم چې ډېر سخت ځانځاني [باندې اخته] یوو او خاصتاً په تشریفاتو باندې ډېر سخت اخته یوو. زما یو جنجال دا و او یوه برخه د وخت به مې په همدې تېرېدله چې دا ځوان متخصصین دومره تشریفاتي وو چې یو بل سره نه کېناستل. که ما ارگ کې نه وای غوښتی، دوی به همېشه په دې [اخته] وو چې څوک باید [چا ته] ولاړ شي. په لحاظ د خدای او قرآن، وطن په څه حال کې دی او تاسې په څه باندې لگیا وئ، اوس به څه کوئ، اوس څوک درته دوه توته اهمیت درکوي!؟ دغه د اشرافیت کیسه باید زموږ له سره وځي، واقعاً یو بد مرض دی او دا هم پېښې د دې جنگسالارانو دي. ما یو جنگسالار لېدلی چې یو ډگروال خپله خولی له سره جگه کړې او د ده بوټونه یې پرې پاک کړي دي په جومات کې. دا نه اسلام سره تړلې ده، نه زموږ ملي خصوصیاتو سره. دغه غرور جنجال دی.  نو ضرور ده چې ظرفیت په دې توگه نظر کې ونیول شي چې څنگه یې په عمل کې ډېروئ او څنگه یې زده کوئ. اساس یې دا دی چې موږ یو بل ډېر بد عادت لرو، زه غواړم په ډېر عجز باندې یې ووایم، ځکه موږ ټول په کې یوو.  موږ ته ډېره سخته ده چې ووایو نه پوهېږو. د دې پر ځای چې ځواب د سوال درکړي چې په دې باندې نه پوهېږم، سبا به ځان پوه کړم، داسې یو ځواب درکوي چې هماغه وخت کې یې له خېټې نه را ویستلی او که په هغه باندې سړی اعتماد وکړي د بې اعتمادۍ فضا راځي، نو ځینې مسایل هم یو عمق لري، ځکه چې یو بل سره آشنا نه وو او هر څوک چې یو بل چېرې یې تحصیل کړی وي او په دې خیال به و چې هماغه شی چې دوی زده کړي دي ټول واقعیتونه په هغه کې دي.

دغې برخې باندې زښته ډېره توجه په کار ده او د دې لپاره لاره چاره دا ده چې یو څو واضح انستیټیوټونه یا ادارې د دې لپاره جوړې شي چې له مدیرانو نه نیولې تر معینانو او وزیرانو پورې ټول یو دریځ ته راشي، په اجماع راشي، یو مشترک فکر ته راشي، یو گډ فکر ته راشي او نقشو د لارو باندې په عملي توگه راشي. ځکه نقشې د لارې خارجیان درته لیکي.  بار، بار ماته نقشې راغلې دي چې یو میلیون ډالرو نه تر لس هاو میلیونه ډالر یې ورکړي دي، [خو] دوه توتو باندې نه ارزېدلې. یو وار مې په یاد دي وزارت مالیه کې مې یوه طرحه لوستله چې ومې کتله د ملگرو ملتونو له خوا راغلې وه. ما یو وارې وویل چې ما خو چېرې مخکې دا لوستې ده.  سړی دومره تنبل و [چې] طرحه په ویتنام

باندې ليکل شوې وه، [له هغه ځايه يې اخيستې وه] دې ته کټ (Cut) او پيست (Paste) وايي. دا رقم نه کېږي بايد موږ په دې باندې پانگه واچوو چې خپلې راتلونکې طرحې څنگه برابروو او بيا يې مهمترينه خبره دا ده چې عمل پسې وگرځو . زموږ وزارتونو کې يوه لويه ستونزه دا وه چې په مجردِ به يې چې يو قرارداد، قراردادي ته ورکړ بيا به[نور] د دوی کار نه و. [د] نظارت برخه په ټولو وزارتونو کې کمزورې وه او بې له دې نه چې د نظارت ترتيب برابر کړئ او سم نظارت وي، بيا يې بايلئ.

**جنبش:** تاسې مخکې د آسترالیایي پانگوال، ميلياردر په برخه کې يوه لنډه اشاره وکړه، غواړم دلته پوښتنه وکړم چې په نړۍ کې ربښتيا هم، مخصوصاً د فوسيلي موادو او هايدروکاربني موادو په باره کې نظر په بدلېدو دی، فکر دا دی چې د دوی استفاده، د دوی کارَوَنه اقليم بدلوي او هوا تودوي. تلاش په نړۍ کې دا دی چې زرغونې انرژۍ خواته لاړ شي. تاسې هم په دې برخه کې يو څه پيل وکړ، يو څه پانگونه مو وکړه؟

**دکتور غني:** بلې هو، معلومداره. لومړی خبره دا وه چې ځنگلونو باندې چې وغږېدو تاسې ته ما وويلې په تېره خپرونه کې چې موږ دې باندې اخته وو چې څنگه يو ميليارد ونو باندې پانگه واچوو او د ناکامورا او د مياواکي سلسله او [نور] چې ما تاسې ته [تېرو خپرونو کې] وړاندې کړه.

بله برخه يې همدا [آسټراليايي] ډاکټر فوريسټ (Andrew Forrest) سره په واضح توگه [د] شنې انرژۍ [موافقه شوې وه او] معنی يې دا وه چې د افغانستان له اوبو نه به انرژي توليدېدله او دا د ۲۴۰۰۰ يا ۲۶۰۰۰ ميگا واټه حدود کې ده. او د دې په څنگ کې، ده سره موږ مطالعات سر ته ورسول، له ښې مرغې نه زموږ د لمر انرژي په زرهاو ميگاواټو باندې امکانات شته.

بله خوا يې د باد [انرژي] وه، د بادو په برخه کې پخوانۍ صدر اعظمې د آلمان مېرمن مېرکل نه ما غوښتنه وکړه چې زيمنس چې دې [برخه] کې پرمختللې شرکت و موږ سره په [بادي انرژۍ] کې مرسته وکړي. زموږ د باد تخمين په حدود د ۷۰ زرو ميگا واټه دی. د ايران باد ۱۰ زره . مگر زيمنس ښه والی دا و چې هم موږ سره، هم ايران سره يې ښې اړيکې درلودې. د شنې انرژۍ په برخه کې زما ټوله طرحه دا وه چې موږ کولای شو د شنې انرژۍ يو لوی صادراتي مرکز په حيث باندې عرض اندام وکړو.

بله برخه يې دا وه چې دا شنه انرژي به زموږ معادن په شنه صنعت باندې بدل کړي، ځکه چې اساس د دې بيا هم انرژي ده او زموږ منابع زښت ډېر دي او د دې په څنگ کې، ځمکې لاندې هم موږ د انرژۍ منابع لرو چې دې ته جيوترمل وايي او هغه کم له کمه په حدود د ۸۵۰۰ ميگاواټو [دی]. همدا دي چې تودې اوبه چينې چې وځي لکه په اندراب

یا د هرات په اوبې کې یا نورو برخو د افغانستان کې، بامیان کې هم چینې شته چې دا ټول زمینه د دې برابروی. افغانستان د دې ظرفیت لري چې سره له دې چې د چاپېریال په ډېر لوی بدلون کې، منفې بدلون کې اخته دی، یو مثبت عنصر ته وګرځي، اما دا ضرورت د دې لري چې موږ پوه شو.

بله خوا دا ده چې شنې انرژۍ ته چاپېریال کې ډېرې پیسې موجودې دي، مګر د دې طریقه هم بل رقم اقدامات غواړي او بل رقم طرحې غواړي چې موږ په دې کې نړیوال بانک سره، آسیایې بانک سره او اتحادیه د اروپا سره په خبرو کې وو.

**جنبش:** با توجه با آنچه شما تا الحال تشریح کردید، می شود گفت که این طرح‌ها یک اساس محکمی است که می تواند درآینده روی آن دوباره کار شود، باوجود تغییرات سیاسی که رخ داده، یعنی این طرحها ارزش خود را حفظ کرده و می تواند اساس رشد بعدی کشور شود؟

**دکتور غنی:** ان شاء الله تعالی، چون نکته کلیدیِ دیدگاه مرا یک قصه انوشیروان عادل تشکیل می دهد. انوشیروان از یک قریه می گذشت همراه سپاه خود، دید یک آدم را که پیر است و کمرش خم است غرس نهال میکند، نهال‌هایی که [به ثمر رسیدن آنها] ۱۰ یا ۲۰ سال می گرفت. طرف این فرد نگاه کرد و گفت: بابه، چه غرس میکنی؟ تو [که] ثمرش را نخواهی دید! نفر طرف انوشیروان عادل دید وگفت: این درخت‌های دیگر را میبینید حضور تان؟ گفت: بلی میبینم. گفت: اگر پدرهای ما و پدر کلان‌های ما مثل خودت فکر می کردند امروز این درختها وجود می داشت!؟ انوشیروان عادت داشت هر بار که یک چیز خاص می شنید می گفت زهی؛ خزانه دارش باز طلا می داد، گفت: زهی. پیر مرد باز طرفش دید و گفت: [ببینید] از دیگران درخت شان ۲۰ سال می گیرد حاصل می کند، از من در ۲۰ دقیقه حاصل داد. انوشیروان باز گفت: زهی. نفر می خواست باز چیز بگوید، انوشیروان گفت: تو مرا فقیر می سازی... ذهنیت ما باید این [طور] باشد.

من به حیث یک ریش سفید مملکت، به حیث یک خادم مملکت وظیفه ام این بود که تهداب گذاری کنم و تهدابی را بگذارم که آینده افغانستان را مصئون کند و در سخت‌ترین شرایط امید را از دست نداده ام، سر اُمید سرمایه گذاری کرده ام تا روایت بدل شود و نکته عظیم این بود که افغان‌ها باورمند شدند که ما یک آینده داشته میتوانیم، به طرف رفاه رفته میتوانیم،خود را مدیریت کرده میتوانیم. بنابراین امید من از این پودکاست‌ها این است که هدفی را تعیین کنیم مثل ۲۰۴۷ و بعد از آن که به عمر ما تعلق نداشته باشد، به طرف تداومی ببینید که ما محصول آن استیم. شما حتماً دیده اید وقتیکه مردم را از خاطر پروژه‌ها میخواستند بیجا کنند، می گفتند: « زموږ هڅوکي دلته دي» د دې په اهمیت باندې زه پوه شوم، ولې؟ ځکه هماغه هڅوکي وو، که زموږ د اوبو نظام ته وګورئ، زموږ سیندونو ته وګورئ، ویالو ته وګورئ

یا کلیو ته وګورئ خو همدغه د پلرونو، نیکونو، غور نیکونو سلسله ده چې موږ ته میراث پاتې ده. نن باید موږ هم په دې باندې اخته و اوسو چې راتلونکو نسلونو ته څه ږدو؟ او دا په ګډه کېږي. زه واقعاً په دې ایمان لرم چې که لاسونه سره یو کړو او زړونه سره یو کړو، ډېر لوی کارونه افغانان کولای شي.

**جنبش:** او که اجازه وي دلته، وبښئ تاسې خبره مو په یاد ساتئ، که څه هم دا نقل قول لږ اوږد دی خو بیا هم همدې موضوع سره رابطه لري، محمود طرزي بیا هم په خپله ورځپاڼه کې یوه اوږده مقاله په دې چې څنګه هیواد جوړ شي لیکلې ده، وایي چې: مثلاً موږ حاصل خیزې ځمکې لرو، معدنونه لرو، دا لرو، دا لرو... خو بیا هم غریب یوو، لیکي: «نو چې داسې ده موږ ولې بې ماله، بې ثروته، بې کماله، بې صنعته پاتې یو؟ ولې د خپل هیواد له ځمکو، کانونو او نورو محصولاتو او معمولاتو ، د نژدې او لېرې هیوادونو د لسمې برخې لسمې هومره ګټه هم پورته کولای نه شو؟ هغوی ګنې ۴ سترګې لري او موږ ۲، هغوی ګنې ۴ لاسه لري او موږ ۲، هغوی ګنې ۲ سرونه لري او موږ ۱، هغوی ګنې ۲ مغزونه لري او موږ ۱؟؛ نه، نه، هغوی چې څه لري موږ یې هم لرو،څنګه چې هغوی انسانان دي موږ هم انسانان یوو، نو بیا ولې موږ له ۱ اینچه ستنې نیولې د ټیلیګراف تر ۱۰۰۰ کیلو متریزو مزو پورې هر شي کې هغوی ته اړ یوو؟ موږ هم کر کوو او لا ځمکې مو د هغوی تر ځمکې ښېرازه او پیاوړې دي، خو زر افسوسه چې موږ له خپلو ځمکو د هغوی نیم هومره محصول هم ټولولی نه شوو. موږ هم سوداګري کوو نو ګټه یې څه چې وطن ته د فایدې پر ځای تاوان اړوو. موږ هم ډک کانونه لرو، خو نه یې پېژنو او نه لاس وروړلی شوو او که لاس مو ور وړ ویجاړوو یې، نو ځکه د هغه چا په خبره چې وایي ستاسې هیواد کې کانونه نه شته قانع کېږو او یوې خوا ته ډډه لګوو. ای پوهنخوښو هېوادوالو! ای هم دینو او هم مذهبو، هم ملتو! وپوهېږئ چې دا بل څه نه دي، مګر زموږ د ناپوهۍ او ناخبرۍ او لټۍ او غافلۍ زېږنده». دغه نقل قول مې د دې لپاره ووایه چې غواړم له تاسې نه د هیواد د مشر، د یوه سپین ږیرې، د اکاډمیک شخصیت په توګه په دغه برخه کې د محمود طرزي دغې لیکنې او اشارې ته په پام سره ستاسې سپارښتنې واورم مثلاً سیاستوالو ته، عادي ولس ته، پوهانو ته څه په کار دي چې هیواد له دغه حالت نه راوباسې؟ او هماغسې چې موږ یو سر لرو نور یې هم لري، دغه سر نه سمه ګټه واخلو؟

**دکتور غني:** لومړۍ تر ټولو [مهمه] خبره جناب جنبش صاحب دا ده چې قیامت ومنئ، چې خدای جل شانه ته ځئ درنه حساب غواړي. موږ آخرت هېر کړی. تمامه ورځ دعوه د اسلام کوو، په عمل کې مو کابل وران کړ، کعبې مکرمې کې قرارداد کوو، بېرته چې راځوو یو بل وژنو، دعوه د جهاد کوو، منځ کې جنګسالارانو باندې بدلېږو. اسلام دین د اصولو دین دی، د حقوقو دین دی، راځو په دیکتاتورۍ یې بدلوو، دا لومړۍ خبره ده.

دویم د اسلام په اهمیت باندې پوه شئ لکه څنګه چې محمود طرزي ورباندې راځي او په تفصیل باندې راځي.

دربیم، افغانستان تر ځان نه ګران ومنئ. که په دې راشئ چې که ځان نه وي جهان [دې] نه وي، دا ذهنیت په غلا باندې بدلیږي.

بل هماغسې چې د محمود طرزي یو کتاب راغی چې څه وکړو (چه باید کرد؟)، «چه باید کرد» باندې باید لازمي اجماع ته راشو او د دې معنی دا ده چې یو بل باید ومنو، ملي وحدت باندې. زموږ قوت، زموږ په ښکلا باندې دی چې مختلفې ژبې لرو. هره ژبه مو د وصل ژبه ده او دا ټول ګلان دي، په یو باغ کې، په یو ملي وحدت کې، یو بل باندې ولې [په ضد] راغلي یو. هره برخه د افغانستان د یوې امپراتورۍ مرکز و، یا د یو مستقل دولت مرکز و په طول د تاریخ کې. خپل تاریخ باندې هم باید پوه شو.

بله برخه دا ده چې ځان ۲۱ پیړۍ ته ورسوو. په ۲۱ پیړۍ کې څه مو په کار دي چې خوندي شئ. څنګه هره ورځ یوه برخه یا بله برخه مو د یو ګاونډي یا بل ګاونډي یا د یو هیواد یا بل هیواد وسیله ونه ګرځئ. وینه ودروئ. که یو بل ومنو، یوه تګلاره راوړو، وینه دریږي، غیر له هغه نه وینه بیا تویږي. او زه غواړم غاړه مې خلاصه کړم او نوي نسل ته مې واضح [پیغام] دا دی چې هغه ظرفیتونه پیدا کړئ، ولې وسیله د جنجال کیږئ؟ ولې جنګسالاران او مفلس سیاستمداران درنه سوء استفاده کوي؟ ولې وسیله د نفاق کیږئ؟ څه باندې مو دعوا ده؟ هو، که مقصد مو دا وي چې یو مو له بل نه بهتره یئ، دا د منلو وړ نه ده. ټول انسانان یئ، ټول مسلمانان یئ، اکثریت مطلق او ټول افغانان یئ، دې باندې باید نتیجې ته ورسیږئ.

د نظام مشروعیت په ولس پورې تړلی دی. دا له پاسه نه راځي. بې له دې نه چې ولس د افغانستان یو نظام مشروع وګڼي، مشروعیت نشته او ولس د افغانستان باید حق ولري او له نړیوال نظر نه هم باید پوه شو چې مشروعیت بې له ژوند له نورو هیوادو سره نه کیږي.

او آخره خبره مې دا ده، آیا دې نتیجې ته رسیږو چې جوړول مو هدف دی؟ او هغه ظرفیت چې موږ غواړو د جوړولو ظرفیت دی؟ دا څه دي چې تمامه ورځ وایو د تُورې او د ټوپک نښانې مو دي؟ ولې د آبادۍ نښانو باندې نه راځو؟ ولې جوړولو باندې نه راځو؟ ولې دا عظیم منابع چې خدای جل شانه راکړې دي د انسان د ښیګڼې لپاره، [نه کاروو؟] هر [څومره چې] د یوه ولس په حیث باندې ټول افغانان ښېګڼې ته ورسیږي [او] هوسایۍ ته ورسیږي، په هماغه اندازه په هغه خپل دین پسې هم ګرځي، خپل مذهب پسې هم ګرځي. [بیا] د دې خطر نشته چې نن مو خدای ناکرده دین په خطر کې دی چې [زیانمنیږي]. دلته د دین پوهه په کار ده، انسانیت په کار دی او خاصتاً ملي وحدت په کار دی چې په مخه لاړ شو او ان شاءالله تعالی دا کیږي.

او د دې لپاره باید بېرته لاړ شو محمود طرزي ته، نورو متفکرینو ته چې زړه سوی یې درلود او تجربه. بیا واضح کړو چې تاریخ نه [عبرت] واخلو چې دا ترخې تجربې تکرار نه کړو. په سولې باندې ما خپل ټول ژوند وقف کړ، راغلئ کودتا مو وکړه! ګټه مو څه وکړه؟ په بربادۍ باندې، په وینې تویولو باندې، په غچ اخیستلو باندې څه جوړېږي؟ موږ یو ډېر ښه رسم لرو جناب جنبش صاحب چې په وینې باندې تېره بړدو. معنی یې دا ده چې وینه درېږي چې ټول خلک فکر وکړي، ټول خلک عقل سره په ځای کړي او ښېګڼې خوا ته لاړ شي. ضرورت د دې دی چې بدې خاطرې، جنایتونه، دا ټول نور شیان چې شوي دي، یو واري یې سپین کړو او زړونه خلاص کړو چې مخکې لاړ شو نه دا چې بار، بار دا تاریخ تکرار کړو.

**جنبش:** ډېره مننه، بسیار تشکر رئیس جمهور محمد اشرف غنی البته همانطور یکه بار، بار تکرار کردم مسئله منابع زیر زمینی افغانستان بسیار وسیع است، بخش‌های متعددی دارد، ولی امیدوار استم که در این دو برنامه توانسته باشیم به آنچه که نیاز بود از شما بشنویم و توضیحاتی از شما داشته باشیم. امید که شنونده‌ها هم پسندیده باشند.

بسیار تشکر، در همینجا این برنامه را به پایان میبرم.

**دکتور غني:** تشکر از جناب شما و باز هم تقاضای من از نسل جوان ما خاصتاً این است که این سرمایه به شما تعلق دارد. دانشی را دستیاب کنید، دیدگاه تان را ایجاد کنید، دست با دست با هم بدهید و مدیریت تان را بدست بگیرید. این فرصتی است طلایی باید از دست دا ده نشود و تشکر میکنم.
تل دې وي افغانستان، یشه سن افغانستان، زنده باد افغانستان.